د افغانستان بانک

د غير بانکي مالي مؤسساتو د څارنې لوی آمريت

# د صرافيو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د سیستم جوړولو شرايط

جمادی الاولی 1444

# لړلیک


**مقرراتي سرچینه** ........................................ 1

**موخه** ........................................ 1

**د سافټویر لړ تر لړه ځانګړتیاوې** ........................................ 1

**1. د ځانګو اړوند معلومات:** ........................................ 2

**2. د مالي او حسابی مدیریت** ........................................ 2

**3. د خزانې مدیریت** ........................................ 2

**4. د صرافی او پولی خدماتو کړنې (عملیات او معاملات)** ........................................ 2

**5. راپورونه** ........................................ 4

**نور موارد** ........................................ 5



د افغانستان بانک
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹

د افغانستان اسلامي امارت
د افغانستان بانک
د حقوقي مشاوریت دفتر
Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank

**مقرراتي سرچينه**

د صرافانو او پولی خدماتو وړاندې کوونکو د کړنو تنظیم مقررې د (11) بند، 3 فقرې، (42) مادې پر بنسټ، صرافان او د پولی خدماتو وړاندې کوونکي اړ دي چې د پېریدونکو د معلوماتو او معاملاتو د ثبت لپاره سافټویر (سیستم) ولري.

د سافټویر یا سیستم نشتون د صرافیو او پولی خدماتو وړاندې کوونکو څخه د څارنې پروسه د خنډ او ځنډ سره مخ کوي نو په همدې پار پورته ذکر شوي مقررې ته په کتو سره اړینه ګڼل کیږي ترڅو د صرافیو او د پولي خدماتو سافټویر یا سیستم لږ تر لږه لاندې ځانګړتیاوې ولري.

**موخه**

د دې لارښود موخه د سیستم د ځانګړتیاو، جوړښت او اړتیاو روښانه کول دي تر څو چمتو شوی سیستم د صرافیو او پولي خدماتو شرکتونه په کړنو کې ګټور او د همدې سیستم له لارې، د افغانستان بانک هم وکولای شي اغیزمنه څارنه ترسره کړي.

**د سافټویر لږ تر لږه ځانګړتیاوې**

صرافان او د پولي خدماتو وړاندې کوونکې اړ دې چې د اړوندي مقررې په نظر کې نیولو سره لاندې ټکي هم په نظر کې ونیسي.

که چیرې لاندې ټکي د شرکت له لوری په نظر کې و نه نیول شي نو سافټویر یا سیستم یی ناقص او د افغانستان بانک ته د منلو وړ ندی.

1. د شرکت او څانګو مدیریت؛
2. مالی مدیریت؛
3. د خزانې مدیریت؛
4. د صرافی او پولی خدماتو عملیات او معاملات؛ او
5. د راپورونو چمتو کول.

**1. د بشري سرچینو او اداري برخه:** شرکتونه کولاي شي د معلوماتو د ساتنې او په خپل وخت معلوماتو ته د لاسرسی په موخه د سیستم د چمتو کولو به وخت کې لاندې ټکي په نظر کې ونیسي.

- د شرکت مهم او کلیدي کارکونکي؛
- د کارکوونکو معلومات؛
- د معاشاتو برخه؛
- نور اړین معلومات.

2. **د څانګو اړوند معلومات:**

- د څانګو تعداد؛
- امتیاز څانګې؛
- د نورو صرافیو او پولي خدماتو وړاندې کوونکو سره کاري اړیکې.

3. **د مالي او حسابي مدیریت**

د صرافانو او پولي خدماتو وړاندې کوونکو د تنظیم د مقررې پر بنسټ اړینه ګڼل کیږي چې شرکتونه د مالي مدیریت برخه په سافټویر کې فعاله وساتي ترڅو د اړتیا په صورت کې لاندې راپورونو د افغانستان بانک ته په غوښتل شوی وخت سره شریک کړي.

- د حساباتو مدیریت؛
- بیلانس شیټ؛
- د ګټې او زیان حساب.

4. **د خزانې مدیریت**

- په خزانه کې د شته پیسو دولونه؛
- د خزانې د ارزښت راپور؛
- د عایداتو، مصارفو او موجودی راپورونه.

5. **د صرافی او پولي خدماتو کړنې (عملیات او معاملات)**

**د پیریدونکو د معاملاتو د ثبت برخه :** پدې برخه کې ټول معاملات باید د کړنو په تفکیک سره په نظر کې نیولو سره ثبت شي.

- د پیسو لیږد (حواله)؛
- د اسعارو تبادله؛
- د پیریدونکو د پیسو ساتل د لیږد په موخه؛
- د پیریدونکو د پیسو ساتل د تبادلې په موخه.

**د پیریدونکو د معلوماتو ثبت :** پدې برخه کې د دایمی او تصادفی مشتریانو معلومات ثبت شي.

1. د حقیقی او حکمی پیریدونکو د دپیژندنی ټکي:
   - د پیریدونکو د پیژندنې عادي شرایط (د مقررې مطابق)
   - د پیریدونکو د پیژندنې جدی شرایط (د مقررې مطابق)
   - د سیاسي اشخاصو پیژندنه (د مقررې مطابق)



د افغانستان اسلامي امارت
د افغانستان بانک
د حقوقي مشاوریت دفتر
Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank
د افغانستان بانک
مدیریت اجرائیه
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
سال ۱۳۹۹
Da Afghanistan Bank

- د پیرودونکو د خطر درجه د ارزونې مطابق او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ پر ضد د مبارزې مسؤلیتونو او اقداماتو مقررې د ۱۳ او ۱۴ مادې په اساس په درېو برخو (د خطر لوړه درجه ، منځنۍ درجه او ټیټه درجه) صنف بندي کیږي.

**د پیریدونکو د معاملاتو ثبت**

1. د معاملې ځانګړتیاوې:
   - معاملې ډول (حواله/تبادله)
   - د پیریدونکی ډول (لیږدونکی/ اخیستونکی)
   - د پیریدونکی نوم
   - د پلار نوم (په هغه صورت کې چې پیریدونکی حقیقی شخص وي)
   - د سند ډول (تذکره، پاسپورت، د فعالیت جواز او یا هم نور اعتبار لرونکی اسناد)
   - د سند شمېره
   - پته
   - د اړیکې شمېره
   - نېټه
   - د معاملې ارزښت
   - د معاملې موخه
   - د عاید سرچینه
2. د مقابل لورې پیریدونکی شخص ځانګړتیاوې:
   - د پیریدونکی نوم
   - د پلار نوم (په هغه صورت کې چې پیریدونکی حقیقی شخص وي)
   - د اړیکې شمېره
   - پته
   - د سند ډول (تذکره، پاسپورت، د فعالیت جواز او یا نور معتبر اسناد)
   - د سند شمېره
   - د مقررې اړوند نور اړین معلومات

6. راپورونه

**د راپور ورکولو برخه** : دا برخه لږ تر لږه د لاندې راپورونو د ورکولو وړتیا ولري:

- د دايمی پيريدونکو راپور؛
- د موقتی پيريدونکو راپور؛
- د ترسره شویو معاملاتو د شمېر راپور؛
  - راپور باید د څانگو په اساس جلا کړل شي.
- د معاملاتو د شمېر راپور چې د مختلفو څانگړنو په اساس جلا کړل شي؛
- لویو نقدي معاملاتو راپور؛
- د دوه پرلپسې کاري ورځو د معاملاتو راپور د پیریدونکو په واسطه چې یوه لویه نقدې معامله رامنځته کوي؛
- د شکمنو معاملاتو راپور؛
- د معیار لاندی معاملاتو راپور؛
- د مالي حسابونو راپور(بیلانس شیت، گټې او زیان)؛
- د یو یا څو مشتریانو په اساس راپور:
  - د تبادلې معاملاتو راپور؛
  - د لیږد معاملاتو راپور.

**د سافټویر وړتیاوې**: سافټویر باید د لاندې معاملاتو او مواردو د پېژندنې وړتیا ولري:

- په میاشتنی ډول سره د افغانستان بانک د اسعارو لیلام (آکشن)، د تبادلې ارقام او د لیږد د ارقامو راپور؛
- پر معاملاتو د څارنې په موخه د شکمنو معاملاتو پيژندني او خبرداري (Alarm)؛
- په یوه وخت کې ترسره شوي معاملاتو او یا په دوه پرلپسې ورځو کې د ترسره شویو معاملاتو پیژندنی او خبرداري؛
- د مالي معاملاتو او راپورنو د شننی مرکز د سیستم (لینک) سره د معاملاتو د راپور ورکونې په موخه د نښلیدل وړتیا؛
- د تعزیراتو لیست د تطبیق په موخه د سیستم سره د نښلیدلو وړتیا؛
- د اسعارو د لیلام سیستم (لینک) سره د نښلیدلو وړتیا؛
- هر یوه څانگه (نمایندگی) باید ځانته یوزر ولري او د مرکزي دفتر په شان د عملیاتي برخه کې خپل اجراآت ترسره کړي.

د افغانستان اسلامي امارت
د افغانستان بانک
حقوقي مشاوریت دفتر
Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank



د افغانستان بانک
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
مدیریت اجرائیه
سال ۱۳۹۹

**نور موارد**

د صرافی او پولي خدماتو وړاندې کوونکي شرکتونه اړ دي ترڅو د سافټویر (سیستم) د اخیستلو په وخت کې لږ تر لږه لاندې ټکي په نظر کې ونیسي:

1- سیستم یا سافټویر باید د شته مقرراتو پربنسټ جوړ شي؛
2- سیستم یا سافټویر باید کامل خوندیتوب (مصؤنیت) ولري؛
3- سیستم یا سافټویر د استفاده لپاره لازم لاربښود د جوړیدونکي له لورې ترتیب او د افغانستان بانک سره هم شریک کړل شي؛
4- د معاملې د تعدیل او پاکیدو په صورت کې سیستم باید د تغیراتو د ثبت (Log) وړتیا ولري؛
5- د هرې معاملې د ترسره کولو وروسته، سیستم باید سند (Voucher) د چاپولو وړتیا ولري؛
6- د معاملاتو د تصدیق او تایید (Authorization and Authentication) پروسه باید د رمز ورکوني وړتیا ولري؛
7- په معاملاتو کې تعدیل او سمون باید د واکمن شخص (Authorizer) له لوري ترسره شي او د افغانستان بانک څارونکې ټیم وکولای شي په معاملاتو کې ترسره شوی تغیر او سمون وکتلی شي؛
8- سیستم یا سافټویر باید د صلاحیتونو ورکره، د صلاحتونو تعلیق او د تغییراتو ساتني وړتیا د هر یو استفاده کونکو لپاره ولری؛
9- د رمز ورکوني وړتیا ولري؛
10- د سیستم څخه د استفاده کونکو د استفادي تاریخچه حفظ د ساتني وړتیا؛
11- سسیتم باید د لزوم دید په صورت کې د توسعه وړتیا ولري.

د پورته ذکر شوي د شرایطو د ښه تطبیق په موخه لازم چک لست ترتیب او د دې آمریت اړوندو مدیرتونو له لوري د ډاډ د تر لاسه کولو په موخه تطبیق کیږي.

د صرافی او پولي خدمتونو شرکتونه باید لږ تر لږه د پورته شرایطو او ځانګړتیاو په نظر کې نیولو سره خپل سیستم ترتیب او لاربښود یې د افغانستان بانک سره شریک کړي.

د افغانستان اسلامي امارت
د افغانستان بانک
حقوقي مشاوریت دفتر
Office of the General Counsel
Da Afghanistan Bank

دافغانستان بانک
Non Banking Financial Institutions Supervision Directorate
سال ۱۳۹۹